دا يو غير رسمي كابو دی. د مکمل او دقيق معلوماتو لپاره تاسو مهرباني وکړی ددی راپور اصلي انګليسي متن ته کتنه وکړی.

د دې ضميمه

د افغانستان د وضعي او د نړيوالې سولې او امنيت لپاره د هغو د اغيزو په اړه د ملګرو ملتونو د سرمنشي د راپور د نشر څخه وړاندې نسخه ده چې د امنيت د شورا د غړو د معلوماتو لپاره دی. دغه راپور به د امنيت د شورا د سند په توګه د S/2009/323 د سمبول لاندې خپرېږي.

جون ۲۳، ۲۰۰۹

**د افغانستان وضعه او د نړيوالې سولې او امنيت لپاره د هغې اغيزې**

## د سرمنشي راپور

### I. پيژندګلوی

۱. اوسنی راپور د عمومي اسامبلی د ۶۳/۱۸ ګڼې د پريکړه ليک او همدارنګه د امنيت د شورا ۱۸۶۸ (۲۰۰۹) پريکړه ليک چې په کې په کې د امنيت شورا د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوی (يوناما) ماموريت د ۲۰۱۰ کال د مارچ تر ۲۳ نېټې پورې اوږد شوی دی په تعقيب وړاندې کيږي. په دغه پريکړه ليک کې د امنيت شورا په هر دريو مياشتو په افغانستان کې د پرمختياوو په اړه د راپور غوښتنه کړې ده. دغه راپور د افغانستان د وضعي او د يوناما د فعاليتونو په اړه چې زما د ۲۰۰۹ کال د مارچ د لسمې نېټې د راپور نه را په دې خوا ترسره شوي دی بيا د سره کتنه کوي (A/63/751-S/2009/135) . دغه راپور د راپور ورکوني په موده کې پر کليدي پرمختياوو باندې تمرکز کوي.

### II. لنډيز

۲. د هغه ځواکمن سياسی ملاتړ د ځرګندولو سره چې د افغانستان لپاره دی د ۸۰ څخه زياتو هيوادونو او سازمانونو د روان کال د مارچ د مياشتې په ۳۱ نېټه د "افغانستان په اړه په نړيوال کنفرانس کې: چې په سيمه بيزه کچه هر اړخيزه ستراتيژي" تر عنوان لاندې جوړ شوی و په هاګ کې سره وليدل، ددغه کنفرانس کوربه د هالند دولت و او د ملګرو ملتونو افغانستان او هالند له خوا يې په ګډه مشرتوب وشو. ما ته دا وياړ ؤ چې پخپله په دغه کنفرانس کې د ولسمشر کرزی او صدر اعظم جان بالکيننډ سره ګډون ولرم. په کنفرانس کې په دې ټينګار وشو چې هلې ځلې لا زياتې او په روښانه استقامت کې د هغو ننګونو سره مقابله وشي چې افغانستان ورسره مخ دی. هغه لومړيتوبونه چې د ۲۰۰۸ کال په جون کې د پاريس د کنفرانس په ترڅ کې تر موافقې لاندې راغلي و، يو ځل بيا دلته تاييد شول هغه ويناوې چې په کنفرانس کې وشوې د دې ځرګندويه دي چې د افغانستان لپاره د لازياتو لومړيتوبونو د اجنډا په سر توافق شته. په ځانګړې ډول په دې توافق وشو چې ښه تمويل شوی او د اغيزمن ملکي ظرفيت او د موسسو د جوړولو پروګرامونه هغسې مهم دې لکه چې د امنيت په سکتور کې د ظرفيت جوړونې پروګرامونه دي او د يوې ډيرې متمرکزې ستراتيژۍ په چوکاټ کې بايد په لومړيتوب سره پاملرنه وشي. د کنفرانس د مشر په اعلاميه کې د لومړيتوب څلورو ساحو ته اشاره شوې ده: د امنيت ټينګښت، د اقتصادي ودې ښه والی، ښه حکومتداري او د سيمه بيزې همکارۍ پراختيا او تقويه، چې د هرې ساحې لپاره تفصيلي وړانديزونه ورسره مله وه.

۳.	په دغه کنفرانس کې د افغانستان د دولت د ملاتړ لپاره د نړیوال عمل او مرستو د همغږۍ کولو په لار کې د یوناما پر مرکزي نقش باندې ټینګار وشو لکه چې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د ۲۰۰۹ کال د مارچ د میاشتې په ۱۸۶۸ لمبر پریکړه لیک کې یې یادونه شوې ده. ددغې پریکړې سره سم چې د یوناما د ځواکمن او پراخه حضور لپاره په دغه هیواد کې ده، غبږ کوي، او دا چې د هاګ په کنفرانس کې د ځرګندو شوو توقعاتو او هیلو ته ځواب ووايي، یوناما هڅه کوي لا زیاتو ولایتونو کې د امکان په صورت کې خپل حضور پراخه کړي او خپلې هلې ځلې د نړیوال عمل او مرستو د همغږۍ کولو لپاره پر مخ بوځي. د مئ په میاشت کې یوناما خپل دوه نوي دفترونه په ترینکوټ او سرپل کې پرانیستل او په راتلونکو میاشتو کې به نور دفترونه پرانیستل شي.

۴.	د دې راپور د ورکولو په موده کې د اګست د میاشتې د ۲۰ نېټې د ټولټاکنو لپاره تیارۍ چټکې شوې دي. د رایه ورکوونکو د ثبت په تعقیب د نوماندانو د ثبت پروسه بشپړه شوې ده او د نوماندانو وروستنی فهرست د پروګرام سره سم نشر شوی دی. د اپوزیسیون نوماندانو په انتخاباتي ډګر کې د مقابلې د کچې د برابرۍ په اړه اندیښنې څرګندې کړې دي. یوناما د اړوندو افغاني موسسو او همدارنګه د نړیوالې ټولنې سره کار کړی دی څو دغو اندیښنو ته ځواب ووايي. په تدریجي ډول د ټولټاکنو د بشري حقونو برخه لا زیاته توجه غواړي.

۵.	د راپور ورکولو په موده کې په کلیدي برخو کې لکه د افغانستان د ملي اردو او ملي پولیسو زیاتوالی او همدارنګه د کرنې، د خصوصي سکټور د پرمختیا او ظرفیت جوړونې په ساحو کې روان پرمختګ لیدل شوی دی. د مرسته کوونکو همغږي د همغږۍ او نظارت د ګډ بورډ د اغیزمنې کارونې د لارې چې مشرتوب یې په ګډه سره د یوناما او د افغانستان د حکومت له خوا کیږي، ښه شوې ده.

۶.	د امنیتي وضعې خرابتیا دوام لري. په داسې حال کې چې په ځینو ساحو کې په تیره بیا په کابل او ګاونډیو ولایتونو کې ښه والی لیدل کیږي، خو په عمومي صورت د امنیتي پیښو شمیره او د تیریو کچه د تیر کال د همدغو میاشتو په پرتله لوړه شوې ده.

**III. ټولټاکنې**

۷.	د جمهوري ریاست او ولایتي شوراګانو ټولټاکنې د افغانستان په سیاسي کړیو او نړیوالې ټولنې کې د مرکزي توجه د لاندې دی. د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون په بریالیتوب سره د سیاسي مناقشې او تخنیکي ننګونو سره سره د ټولټاکنو د نېټې سره توافق وښودلو. لکه چې زما په پخواني راپور (A/63/751,S/2009/135) کې د دې یادونه شوې ده، د رایو ورکوونکو د ثبت جریان پرته د کومې جدي پیښې څخه پای ته رسیدلی دی. د دې لپاره چې هغو رایه ورکوونکو ته رسیدنه وشي چې د خپلو نومونو په ثبت په دغه ټاکلې موده کې نه وو بریالي شوي، نو د رایه ورکوونکو د ثبت لپاره په ټاکل شوو محلاتو کې خوځنده ټیمونه مؤظف شول، د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون د وینا له مخې د ۷۹۶ د رایه ورکوونکو د ثبت د مرکزونو د جملې څخه یوازې نهه یې د نا امنۍ له امله پرانیستلو ته چمتو نه شول، په داسې حال کې چې ځینې یې نږدې پرتو ولسوالیو ته ولیږدول شول. نږدې ۴،۵ میلیونه رایه ورکوونکي د ثبت د نوي پروسې پرمهال ثبت شول چې د هغو څخه ۳۸ سلنه یې ښځې وي. ځینې بې نظمۍ د دې لامل شوې چې څو ځله ثبت ترسره شي او د ثبت په پروسه کې راپور راغلی دی. د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون د ملګرو ملتونو د پرمختیايي پروګرام د ایلیکت د څانګې، په اروپا کې د امنیت او همکارۍ د سازمان (OSCE) او نورو متخصصانو سره کار کوي چې د ټولټاکنو پر ورځ ددغو بې نظمیو اغیزه راکمه کړي. نه پاکیدونکي رنګ به چې په وروستنیو وختونو کې په کابل کې آزمایل شوی دی، د ټولو رایه ورکوونکو پرګوتو ولګول شي څو چې په دې توګه د څو ځله رایه ورکونې مخنیوی وشي.

۸.	د نوماند کولو جریان په بریالیتوب سره د اپریل د ۲۵ نېټې څخه د مئ د ۸ نېټې پورې پای ته ورسید. د مئ په ۱۶ نېټه د ټاکل شوی مهال ویش له مخې د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون د جمهوري ریاست او ولایتي شوراګانو لپاره د نوماندانو ابتدايي فهرست اعلان کړ، چې د هغه له مخې د جمهوري ریاست د څوکۍ لپاره ۴۴ تنو او ولایتي شوراګانو لپاره ۳۳۲۴ تنو خپل نومونه ثبت کړي وو. د ښځینه نوماندانو د کمې شمیرې په غبرګون کې چې د ولایتي شوراګانو د څوکیو لپاره وي، د مدني ټولنو ګروپونو او یوناما خپلې بریالۍ هلې ځلې ترسره کړې

چې ښځې د ثبت لپاره وهڅوي. کله چې د نوماندۍ پړاو پای ته ورسید نو ۳۴۱ ښځو ځانونه د ولايتي شوراګانو د څوکیو لپاره نوماندي کړې. د هغو له جملې څخه ۱۳ تنو يې خپل نومونه د نوماندۍ له فهرست څخه وويستل او پاتې ۳۲۸ تنه په ټولټاکنو کې برخه اخلي. د ۲۰۰۵ کال په پرتله دې ټولټاکنو کې ۸۱ تنه ښځې زياتې دي. د نوماندۍ پړاو د نوماندانو د ارزونې سره تعقیب شو چې غوښتنلیکونه وڅېړل شي، څو دا باوري کړای شي چې هغوي قانوني معيارونه پوره کوي، چې په دې کې دا پلټنه هم شامله ده چې د ناقانونه وسله والو ډلو سره د اړیکو په اړه معلومات تر لاسه شي (لاندنی ۱۴ پراګراف وګورئ). د هغو نوماندانو نومونه چې د نوماندۍ وړ و نه بلل شول هغوي چې د خپلې نوماندۍ څخه په دغه پړاو کې تېر شوي و د رايه ورکوونې په وروستنۍ پاڼه کې يې نومونه نشته. د نوماندانو وروستنۍ لست د جون په ۱۳ نېټه نشر شو چې د هغه له مخې د جمهوري رياست د نوماندانو شمیره ۴۱ تنه او د ولايتي شوراګانو نوماندانو شمیره ۳۱۷۸ تنو ته رسیږي. د ټولټاکنو د کمپاين پړاو د جون په ۱۶ نېټه پيل شو.

۹. هغه شخړې چې د ۲۰۰۹ په لومړیو کې په سیاسي بحثونو کې مطرح وې اوس هوارې شوي دي. زما ځانګړی استازی د مختلفو خبرو اترو او د افغانی مقاماتو او سیاسي مشرانو تر منځ او همدارنګه د نړيوالې ټولنې مشترکاتو ته د ودې ورکولو له لارې په دې اړه یو ډېر مهم رول لوبولی دی. له هغو هوارو شویو شخړو څخه یو لومړی د انتخاباتو د نېټې ټاکل و. وروسته له دې چې ولسمشر کرزی غوښتنه وکړه چې انتخابات د هېواد د اساسي قانون د ۶۱ مادې سره سم باید د مې د میاشتې د ۲۲ څخه د مخه ترسره شي، د ټولټاکنې خپلواک کمیسیون په خپله پرېکړه ټينګ ودرېدلو چې ټولټاکنې د عملياتي دلايلو له وجې بايد د آګست په ۲۰ ترسره شي. او دا پرېکړه وروسته د ولسمشر کرزی، د حکومت د اپوزیسیون او نړيوالې ټولنې لخوا په پراخه کچه د منلو وړ وګرځېده.

۱۰. دويمه شخړه د مې د ۲۲ وروسته د ولسمشر کرزی د واکدارۍ په اړه وه، کله چې د هغه د ولسمشرۍ موده د اساسي قانون د ۶۱ مادې سره سم پای ته رسیږي. خو ستري محکمې د مارچ په ۲۹ یوه نظریه صادره کړه چې مفاد يې دا و چې ښاغلی کرزی کولای شي پخپلو ټولو صلاحيتونو سره سره د مې د ۲۲ نه وروسته تر هغه وخته پورې چې د نوی ولسمشرۍ دوره پیل کېږي پخپل مقام پاتې شي. او کومې شخړې چې په دې هکله موجودې وې، هم اوس پای ته رسيدلي دي.

۱۱. د اپوزیسیون مشرانو په ډېر زور سره پر دې ټينګار کاوه چې دا مهمه ده چې د انتخاباتو د کمپاين کولو لپاره ټولو ته برابره زمینه مساعده شي. هغوي په دې شک څرګند کړ، چې افغاني نهادونه وکولای شي چې د یوې باوري انتخاباتو لپاره زمینه برابره کړي. يوناما اوس په هغو هلو ځلو کې ونډه اخلی چې د دې اندیښنې د له منځه وړلو لپاره تر سره کېږي، دغه ونډه اخيستنه هم په هغو تخنيکي ملاتړ کې چې د ټولټاکنې له پروسې سره کېږي، او هم په هغه سیاسي رول کې چې ملګري ملتونه او نړیواله ټولنه يې د انتخاباتو د چاپيريال د جوړونې په هکله ترسره کوي، منعکس کېږي.

۱۲. د يو ان ډي پي ايليکت (ELECT) پروژه د ټولټاکنې د خپلواک کمیسیون سره خپل نږدې همکاری ته دوام ورکوي. هغه تخنيکي ملاتړ چې برابر کېږي، عملياتي ملاتړ، لوجيستيکي ملاتړ، د ټرينينګ او ظرفيت جوړونې ملاتړ رانغاړي، همدا رنګه د مالي وجوهو را ټولول په کې شامل دی تر څو دا باوري شي چې ډونران د انتخاباتو له پروسې سره چې د لوجيستيکي، توزيعی او د آمادګی له لحاظه یوه ډېر حساس پړاو ته رسېدلي، خپل ملاتړ کوي.

۱۳. يوناما همدارنګه د کانديدانو او له مدني ټولنې سره د خبرو اترو يوه پراخه برنامه پیل کړه. د ملګرو ملتونو پلاوی همدارنګه د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون په ګډون، د سیاسي حقونو د څارنې یو پروګرام هم جوړ کړي دی. دغه پروژه پر څلورو بشري حقونو ( د بيان ، د ټولنو د جوړولو، د سوله ییزو غونډو، او د خوځښت آزادی)، او پر درې اساسي اصلونو (نه ډارول، بې طرفی، او نه تبعیض) باندې ټينګار کوي. يوناما به د ټولټاکنې ټول پړاوونه وڅاري او چاروا کو ته مناسب سپارښتنې وکړي. او ځانګړی توجه به په هغو عواملو

وشي کوم چې د ښځوپه وړاندې له خپلو سیاسي حقونو څخه د ګټې اخیستلو محدودیتونه وضعه کوي. د دې انتخاباتو په هکله د موندنو په اړه به رپورټونه خپره شي. زما ځانګړې استازی یو مجموعه د اساسي لارښوونو خپره کړې وه، چې د انتخاباتو د پروسې په جریان کې د پلې کولو وړ و، چې په هغه کې د افغانستان مقرارات او نړیواله غوره کړنې په خلاصه توګه نغښتل شوی و، او نوموړې لارښوونې کاندیدانو دهغوی مسئولینو، استازېو، د هغوی د ګونډونو غړیو، او پلاویانو، رسنیو، او نړیوالو استازو ته د هغوی د مسئولیتونوو په هکله یادونې رانغښتې وې، تر څو د یوه منظم انتخابات ترسره کول باوري شي.

۱۴. د انتخاباتو د شکایتونو کمیسیون (ECC) تاسیس شو او اوس مهال په ولایتونو کې خپل ځان ځای پر ځای کوي. د نوموړی کمیسون له پنځو غړیو، درې نړیوال انتخاباتي او حقوقي کارپوهان دي چې زما د ځانګړی استازی له خوا ټاکل شوي دي. د انتخاباتو د شکایتونو کمیسیون د نوماندانو په اړه ډېرو اعتراضونو ته رسیدګی کړي او اوس هم د انتخاباتی سرغړونو په هکله خپلې څیړنې ته دوام ورکوي. د جون په ۹ نوموړی کمیسیون ۵۷ نوماندان د معیارونو د نه پوره کولو پر اساس، غیر واجد شرایط اعلان کړل چې په هغوی کې دوه د ولسمشرۍ نوماندان هم وو. د رسنیو کمیسیون چې د مې په میاشت کې د انتخاباتو د خپلواک کمیسیون لخوا تاسیس شو له پنځه افغان غړو څخه جوړ دی، او هڅه کوي چې د انتخاباتي کمپاینونو منصفانه رسنیز پوښښ او ګزارش ورکونې باوري کړي او شکایتونو ته رسیدګی وکړي.

۱۵. ولسمشر کرزی د ۲۰۰۹ ټولټاکنو په چارو کې د نه مداخلې په هکله یو فرمان صادر کړ چې دولتی نهادونه او چارواکې د انتخاباتو په چارو کې له مداخلې منع کوي. زما ځانګړی استازی د ولسمشر او د حکومت نورو اړوندو چارواکو سره خپلو خبرو اترو ته دوام ورکوي څو دا یقنی کړي چې دوی د نوموړی فرمان سره سم خپلې چارې پر مخ بیایي.

۱۶. د امنیتي پلان جوړونې ګډه ډله (JSPG) جوړه شوه تر څو د انتخاباتو د امنیت پلان جوړونی د افغان ملي امنیتي ځواکونو، د ټولټاکنې خپلواک کمیسیون او نړیوال امنیتي کومکی ځواکونو، CSTC-A او د ملګرو ملتونو ترمنځ همغږۍ وکړي. JSPG اوس مهال د نوماندانو امنیت، خوځښت، د انتخاباتی توکو ویش، په ولایتونو کې د اوپراسیون مراکز او د ټاکل شوي رای ورکونې مرکزونو د امنیتی حالاتوو ارزونې ته رسیدګي کوي.

۱۷. اروپایی اتحادیې پریکړه کړې چې یو څارنیز هیئت (افغانستان ته) ولیږي او OSCE هوډ لري چې (افغانستان ته) د انتخاباتو د ملاتړ یو ټیم ولیږي. زما ځانګړی استازی په دواړو نوموړیو سازمانونو باندی غږ کړی چې د خپلې برخې اخیستنې کچه او ساحه پراخه کړي. د افغانستان د آزاده او منصفانه ټولټاکنې سازمان (فیفا) هوډ لري چې ۸۰۰۰ داخلي کسان د انتخاباتو د بهیر د څارنې لپاره په ټول هیواد کې خپاره کړي چې د رای ورکونې د مرکزونو شا و خوا ۷۰ فیصده تر پوښښ لاندې نیسي. د داخلي او نړیوال څارونکیو سوبتیا کولای شي د انتخاباتو په سپیڅلتیا او اعتبار کې یو ستر رول ولوبوي. یوناما د انتخاباتو د څارنې د یو کاري ګروپ په ګده توګه کوربه توب کوي چې ښایي داخلی او نړیوالو څارونکیو ته لارښوونې برابرې کړي او د هغوی په کار کې آسانتیاوې راولي.

## IV. امنیت

۱۸. د امنیتي پېښو ټولیزه شمیره مخ په زیاتېدو ده، د مې په میاشتې کې د پیښو شمېره د لومړی ځل لپاره د ۲۰۰۱ راهیسې د ۱۰۰۰ پیښو څخه واوښت. د ۲۰۰۸ د لومړنیو څلورو میاشتو په پرتله سږ کال په امنیتي پېښو

کې ۴۰ فیصده زیاتوالی رامنځته شوی. (چې په منځی ډوله ۷۴۰ پېښې په میاشت کې راځي چې دغه منځی شمیره د ۲۰۰۸ په لومړیو څلورو میاشتو کې ۵۱۹ پېښې په میاشت کې وه.) د امنیتي پېښو په شمیر کې د زیاتوالی سبب هم دا دی چې نارامیو په روایتي سیمو لکه سویل او ختیځ کې د جګړې لمن مخ په غزېدو ده. همدارنګه د یاغیانو د فعالیتونو کچه هغو سیمو ته غځېدلی چې پخوا آرامه ګڼل کېدلې چې شمالي سیمه دلته په ځانګړې ډول د یادونې وړ ده. د تېرو څلورو میاشتو په اوږدو کې د هغو جګړه مارو په شمېر کې چې اتکل کېږي له القاعدې سره اړیکې لري او د طالبانو په کتار کې ولاړ دي، زیاتوالی راغلی دی.

۱۹. د دغه بې ساری پیچلی واقعیت سره سره، د هیواد په مهمو برخو کې ځیني پراختیاوې هم تر سره شوي دي. د افغان ملي اردو، ملي پولیسو او د امنیت ملي ریاست تر منځ د هماهنګی کچه ډیره ښه شوې ده. دا د دې سبب شو چې په کابل، او شاوخوا ولایتونو لکه وردک او لوګر ولایتونو کې د امنیتي پېښو کچه په ګړندۍ توګه را ټیټه شي. له تروریستي بریدونو څخه مخنیوي شوی دی. د کابل په شاو خوا کې اضافي نړیوال ځواکونه د نویو افغان جلبیانو په څنګ کې ځای پر ځای شوي دي. او همدا رنګه د هرات په امنیتي پېښو کې کمښت تر سترګو کېږي.

۲۰. د مخ په زیاتېدو او قوي جګړو او تهدیدونو او وژنو له امله د دولت د بې وسلې ملکي کارکوونکیو د خوځښت آزادی په منفي توګه د اغیزمن کېدو په حال کې ده. د دولتي چارواکو، کارکوونکو، دیني عالمانو، او د د دولت ملکي قراردادیانو په نښه کول دوام وموند. د ۲۰۰۸ کال د لومړیو څلورو میاشتو په پرتله د سیاسي وژنې، اختطاف او تهدیدونو او د مرستې رسوونکو په شمول د ملګرو ملتونو کارکوونکو په نښه کول په ډیره چټکی سره کمښت وموند چې په دې موده کې یوازې یوه پېښه ګزارش شوی ده.

۲۱. د ۲۰۰۹ کال په لومړیو څلورو میاشتو کې د پیچلو او پرمختللو بریدونو په شمېر کې خورا زیاتوالی راغلی دی. چې آخري یې په کندهار کې د ولایت پر ودانی او پر ولایتي شورا د دوو جلاوو پېښو په ډول یادونه کولای شو. همدا رنګه د مې په میاشت کې په خوست کې د ولایت پر ودانی او د پولیسو پر قوماندانی باندې برېد یادولای شو. د قندهار په دننه او په شاوخوا کې د امنیتي حالاتو خرابېدل د اندیښنې وړ دی. د ۲۰۰۸ په پرتله د ښار په منځ کې په ګزارش شوېو امنیتي پېښو کې ۸۰ فیصده زیاتوالی رامنځته شوی دی چې هوایي ډګر هم هلته پروت دی. دا د ساعتي چاودیدونکو توکیو کې د چټک زیاتوالی هم رانغاړي چې د ښار په دننه کې ګزارش شوی دی. د کورنیو چارو وزارت د کندهار د ښار په پولیسو کې اصلاحات یو لومړیتوب بللی چې په هغه کې د جولای د میاشتې تر پایه پورې د پولیسو په شمیر کې زیاتوالی هم شامل دی.

۲۲. ملګرې ملتونه هم تر برېد لاندې راغلل. د کندهار د ولایتي شورا د برېد په پایله کې د یوناما یو کارکوونکی په جدي توګه ژوبل شو. د فبرورې په ۳ د ملګرو ملتونو یوه قافله د هرات په شمالي سیمو کې کمین سره مخامخ شوه، او د مې په ۵ د اورزګان د ولایت د ترینکوټ په ښار کې یوه ساعتي چاودېدونکی آله د ملګرو ملتونو یوه زغرور موټر ته نږدې چې د ملګرو ملتونو په نشان باندې سمبال هم و، وچاودید، خو له نیکه مرغه له امله یې چاته مرګ ژوبله ونه اوښته. د جون د میاشتې په ۸ د کندز په ولایت کې د ملګرو ملتونو د خواړو او کرهنې سازمان په یوه مرکز باندې برېد وشو چې له امله یې د هغه مرکز دوه ساتونکي ټپیان شول. دا امکان هم شته چې د نوموړو بریدونو اصلي نښه ملګرې ملتونه نه وي.

۲۳. داسې اټکل کېږي چې د سږ کال په راتلونکی څلورمه کې د تېر کال د همدغې مودې په پرتله، د تاوتریخوالی کچه لا لوړه شي چې په هغه کې د ډیرو پیچلو ځانمرګي بریدونو، ګواښونو، او سیاسي وژنو د ترسره کېدو تمه هم کېږي چې ښایي د یاغیانو له خوا تر سره شي. د افغان او نړیوالو سرتیرو د شمیر د زیاتوالی له امله کېدای شي د امنیتي پېښو کچه هم لوړه شي.

۲۴.	د محلي ارګانونو د خپلواک ریاست، او د آیساف د ځواکونو په همغږۍ سره، یوناما په پنځو ولسوالیو کې چې د عاجلو اقداماتو لپاره په ګوته شوي دي، د یوې یوپارچه تګلارې په آزمایشي توګه د پلي کېدو په حال کې ده. دا به هغه وخت د پاتې کېدو او د ودې وړ وګرځي که چېرې د آیساف او د حکومتي چاروکو په ځانګړې توګه د محلي ارګانونو د خپلواک ریاست له پلوه پوره ملاتړ ور په برخه شي.

### V. د افغانستان ملي پرمختیا د سراتیژۍ او د مرستندویه ټولنې د همغږۍ لپاره هڅې

۲۵.	د پاریس د کنفرانس نه راوروسته، یوناما د حکومت د ډونرانو په سلا مشورې سره، پنځه سکتورونه په ګوته کړل چې د افغانستان د اوږد مهالي اقتصادي ودې لپاره بنسټیز بلل کېږي کوم  ته چې لا تر اوسه پورې د مرستندویه ټولنې له خوا ورته پوره توجه نه ده شوې. نوموړی سکتورونه په لاندې ډول دي: کرهنه، انرژي، د خصوصي سکتور پراختیا، ظرفیت جوړونه، لوړې زده کړې او مسلکي روزنې.

۲۶.	د رپورټ ورکوني دورې په دننه کې د ځینو لومړیتوبونو په برخو کې چې د هاګ په کانفرانس کې یو ځل بیا وربانديې ټینګار شوي و، د پراختیا هڅوونکي پړاوونه وهل شوي دي. د همغږۍ او څارني ګډ هیئت (JCMB)  د اپریل په ۱۹ غونډه (JCMB XI) کې چې زما د ځانګړي استازی او ستر وزیر امین ارسلا تر ګډې مشرۍ لاندې تر سره شوه، نوموړی هیئت د نوی کرنیزې ستراتیژي، د پولیسو د اصلاحاتو، او د خصوصي سکتور د ودې په هکله د پام وړ پریکړو ته لاس رسی وموند. د نوموړی هیئت د دې غونډې تر مخه د دې هیئت دائمي کمیټې غونډه ترسره شوه چې په ترڅ کې یې نوموړې برخې د JCMB  لپاره د پام وړ موضوع ګڼلو په ډول په نښه شولې.

۲۷.	د کرنې د پراختیا نوی چوکاټ د افغانستان د کرهنې خړوبونې او مالداری د وزارت تر مشرۍ لاندې جوړ شو چې د ملګرو ملتونو او د نړیوال بانک ملاتړ هم له ځانه سره لري. د نوموړی چوکاټ موخه  کرنیزو تولیداتو ته وده ورکول، بازار موندل، او د بیکارو خلکو لپاره دندې برابرول دي.  نوموړی وزارت په دې هکله پنځه لومړیتوبونه لکه د راتلونکي کرنیز فصل لپاره د غنمو  د تخمونو پیرودل او د ځمکې اجاره او قرضو ته لاسرسي، په ګوته کړل. د نوی جامع کرنیزې او د کلیو پراختیا (CARD) آسانتیا د ځانګړی اهمیتدرلودونکی  دی چې موخه یې په تشویقي توکو کې د زیاتون له لارې د مشروعو کښتونو هڅول او د اپینو د ګواښ کمول دي. د همغږۍ او څارني د ګډ هیئت (JCMB) د ټول پروګرام او لومړیتوبونو د تاییدولو وروسته  وزارت اوس د تشو د ارزونو په حال کې دی څو وکولای شي ډونران وهڅوي او د هغوي د فعالیتونه لپاره لاربنوونې برابرې کړي. یوناما په دې موخه چې د افغان د غښتلي مشرتابه لاندې ټول ډونران په اغیزمنه توګه سره یوځای کړي، د نوموړی وزارت سره دوامداره خبرو اترو ته دوام ورکړي.

۲۸.	په افغان ملي پولیسو کې د اصلاحاتو د راوستلو پروسه د رپورټ ورکوني مودې په دننه کې دوام درلود. دکورنیو چارو وزارت اوس د فساد سره د جګړې، د اداري ځواب ورکوني غښتلتیا، د رهبری لپاره د ظرفیتونو لوړول، او د وړتیا پر بنسټ مقرری ګانو په برخه کې د سترو جدي ګامونو د اخیستو په حال کې دی. د کورنیو چارو د وزارت له مخې له ۱۰۰ نه زیات پولیس افسران له دندو څخه ګوښه شوي دي او نور کسان هم تر تعقیب لاندې دي.  د پولیسو د بشري قواوو د مدیریت د سیستم د جوړولو لپاره کارپوه ټیمونه جوړ شوي دي. او یو ټولنیز د څارنې میکانیزم تر سمبالونې لاندې دي چې ښایي انتخابي پلاوې، او مدني ټولنې ته دا زمینه برابره کړي چې د پولیسو په اجراآتو کې په ځایي کچه د څارنې رول تر سره کړي.

۲۹.	د افغان ملي پولیس اوسنی ستونزې یوازې په دې ډول لرې کیدای شي چې د دوي شمیر زیات شي، په روزنه کې یې ښه والی پیدا شي، په ښه ډول تعلیم ورکړل شي او وسایل ترلاسه کړي. د ډونرانو او حکومت ترمنځ له سلا مشورو وروسته د جی سی ایم بی XI غونډې په دې موافقه وکړه چې د کابل ښار لپاره په مؤقت ډول

۴۸۰۰ تنه نور پوليسان ونيسي. له دې څخه پرته دا موافقه هم تر لاسه شوه چې د زيانمنيدونکو ولايتونو لپاره په موقت ډول له ۵ تر لسو زرو نور پوليس هم ونيول شي. د دغو پريکړو د عملي کولو لپاره د پوليس د همغږۍ د نړيوال بورډ تر نظر لاندې يو مفصل پلان تيارېږي، مهمه خبره دا ده چې په شمير کې زياتوالی بايد له دې سره ملګري وي چې موسساتي سمون، په تيره بيا د فساد په ضد اقدامات ګړندي شي او د انتخاباتو او روزنې طرز العملونه نور هم بهتره شي. دغه کار د بين المللی ټولنې پراخې مرستې ته اړتيا لري. په راتلونکې کې به د پوليس د شمير په باب پرېکړه له هغه سروې څخه وروسته وشي چې د اروپا کميسيون يې په دې باب ترسره کوي او يوناما له هغې سره مرسته کوي. دغه سروې د ملي پوليس په حقيقي اړتياوو، د دوی په شمير، تخصص او جغرافيايي توزيع باندې زيور اچوي.

۳۰. دغه راز د خصوصي سکتور په برخه کې هم ښه پرمختګ شوی دی. د جی سی ايم بی په XI غونډه کې د سوداګرۍ او صنعت وزير پنځه لومړيتوبونه وړاندې کړل چې د ټرانزيت د لارې اسانتياوې، د لايسنونو سمونه، د پانګې اچونې پرمختګ او د ارزښت د زياتولو پروسې په کې شاملې وې. دغه لومړيتوبونه د دونرانو له خوا حمايه شول. جی سی ايم بی وزير دې ته تشويق کړ چې څومره ژر چې امکان لري پروژې د تمويل لپاره وړاندې کړي.

۳۱. د ظرفيت د لوړولو په برخه کې د حکومت د وزارتونو د يو شمير "مشترکو کارونو" په اړه لکه محاسبه، خريداري، بشري منابع، د پاليسی طرح او د پروژو مديريت د يوه ډېر مهم ضرورت په څير د عمومي سټندرډ يا معيار په تعينولو باندې زور اچول شوی دی. د ملکي خدمتونو اداري د دونرانو په مرسته د مفهوم يوه مسوده جوړه کړه، چې اوس د يوې پروژې په څير د طرح کيدلو په حال کې دی دغه کار بايد د "ملکي خدمتونو زياتوالی" له هڅو سره همغږي شي (لاندې برخه وګورئ) څو له تکرار او د موازې او رقابت کوونکو جوړښتونو څخه مخنيوی وشي.

۳۲. لوړو او مسلکي زده کړو په اړه يوناما د تعليم، لوړو زده کړو، د کار او اجتماعي چارو او شهيدانو او معلولينو له وزارتونو سره کار پيل کړی دی څو هغه تشې او نا انډولي پيدا کړي چې ټول تعليمي سيسټم يې متاثره کړی دی. لوړو زده کړو او په تيره بيا مسلکي زده کړو ته لاس رسي نن ورځ ډېر محدود دي، چې که چيرې سمون په کې را نه شي، کولای شي چې په تعليمي فرصتونو او اقتصادي ودې باندې ډېره منفي اغيزه ولري. يوناما ددې نيت لري چې له اړونده وزارتونو سره يو ځای ددغو تشو په باب وړانديزونه وکړي.

۳۳. د راپور ورکولو په دوره کې د دونرانو د همغږي کولو او د مرستو د اغيزمنتوب په اړه ډېرې ګټورې مباحثې وشوې. د مالي‌ې وزير، د يوناما په ملاتړ په څو واره د افغانستان د انکشاف د ملي ستراتيژي او د پاريس له لومړيتوبونو سره د دونرانو د هڅو د يو کولو په اړه ټينګار وکړ. هغه ددې وړانديز وکړ چې د اوسنيو لومړيتوبونو د پوره کولو لپاره چې اوس پانګې نه لري بايد منابع پيدا شي لکه کرنه او بنيادي ساختارونه. ددې لپاره چې همغږي په ښه ډول يقيني شي، څو نوی ميکانيزمونه ايجاد شی د "د دوباره کتنې" ميکاينزم چې حکومت او يوناما او دونرانو ته به ددې فرصت ورکړي چې د منابعو په تخصيص کولو کې يو نظم او نسق يقيني کړي. دغه ميکانيزم دونران دې ته اړ باسي چې نوی پروژې د بيا کتنې لپاره معرفي کړی څو هڅې يو ځای شي، د تکرار مخنيوي وشي او عيبونه کم شي. دغه ميکانيزم د روغتيا په وزارت کې د مې د مياشتې په سر کې پيل شو او د کرنې او اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت ته په همدې مياشت کې معرفي شو.

۳۴. د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتيژي کې فکر کيږي چې د ۲۰۰۸ او ۲۰۱۳ کلونو ترمنځ به د افغانستان له ۷۵ په سلو کې زياته بودجه د دونرانو له لارې پوره کيږي. دغه حالت دوامداره نه دی او ددې اړتيا په ګوته کوي چې حکومت بايد خپله بودجه له خپلو سرچينو څخه پوره کړي. دا خبره د تشويق وړ ده چې د مالي‌ې وزارت د مالياتو په راغونډولو کې پرمختګ کړی دی او د لومړی ځل لپاره يې په ۱۳۸۷ مالي کال (مارچ ۲۰۰۸- مارچ ۲۰۰۹) کې خپل هدف تر لاسه کړ.

۳۵. يوناما هم د جون په ۱۰ د حکومت له غړو، دونرانو او د يو شمير افغاني محلي رانيوونکو سره يو ځای د خريداري يو کمپاين پيل کړ. ددې کمپاين هدف داو چې بين المللی ټولنه دې ته تشويق کړي چې افغاني مالونه

راونيسي او په ډېرو قيمتي وارد شويو جنسونو باندې زياته تکيه ونه کړي. ددې هدف دا دې چې په افغانستان کې د کار زميني زياتې کړي، اقتصادي وده وهڅوي او په مالياتو کې زياتوالی راشي.

۳۶. د ماليې په وزارت کې د انکشافي مرستو د ډيتابيس يو مرکز تاسيس شوی دی چې له دونرانو څخه په ټول ملک د هغوې د انکشافي فعاليتونو په باب معلومات راټول کړي. دا يوه مهمه وسيله ده ددې لپاره چې د ټولو سرچينو څارنه وشي هغه بل لوری ته سوق او همغږي شي، په اوس مهال کې ډيتابيس د ښه کيدلو په حال کې دی څو د دونرانو، د حکومت او د يوناما اړتياوو ته ځواب وويلی شي. که څه هم يوناما تخمين کوي چې تر نن ورځې د ۷۰۰ ميليونه او يو بليون ډالر پورې لګول شوي دي بې له دې چې په مناسب ډول يې راپور ورکړل شي، خو د مناسبې راپور ورکونې د اهميت په باب اوس پوره خبرتيا شته څو د مرستو د اغيزمنتوب او همغږي کولو هڅې نتيجې ته ورسيږي.

۳۷. د مې په ۲۸ د اقتصاد د وزارت او د ملګرو ملتونود ځايي همغږي کوونکی ترمنځ د ملګرو ملتونو د انکشافي مرستو د قانوني چوکاټ په باب موافقه له حکومتي چاړواکو، دونرانو او د مدني ټولنې له استازو سره له سلا مشورو وروسته لاسليک شوه. دغه سند له ۲۰۱۰ څخه ۲۰۱۳ کال پورې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ټول سازمان لپاره د مداخلې او فعاليتونو يوه تګلار ټاکي. په دې لار کې درې لومړيتوبونه پيژندل شوي دي: ۱) حکومت داري ۲) د ژوندانه دوامداره وسايل ۳) بنيادي خدمتونه. يو اين ډی اي ايف يو مهم نوښت رامنځ ته کړی دی، د يوې "مشترکې پانګې" ايجادول د هغو پروژو او پروګرامونو لپاره چې لړ تر لړه د ملګرو ملتونو د دوو ايجنسيو له خوا په ګډه سره له شپږو ولايتونو څخه په يوه کې تطبيق کيږي چې کار په کې نه دی شوی. د دونرانو په مرسته په دې ډول به د مرستو په رسولو کې هغه څرګنده نا انډولی رفع شي چې په ډېرو ارامو خو وروسته پاتې ولايتونو کې د هغو په پرتله شته چې نا ارامه دي.

۳۸. د هاګ کنفرانس هغه لومړی بين المللی غونډه وه چې د افغانستان او پاکستان لپاره د ستراتيژی د بيا کتنې په تعقيب جوړه شوه. دغه بيا کتنه د ګډون کوونکو له خوا په کنفرانس کې تاييد شوه، په تيره بيا په ملکي ماهرانو کې زياتوالی چې د افغانستان له حکومت سره په ملي او محلي کچه د افغاني ماهرينو په روزنه کې مرسته وکړي.

۳۹. ملګرو ملتونو هم "د ملکي پرمختګ" هرکلي وکړ چې د موسساتو د جوړولو په رابطه له هغو غوښتنو سره سمون لري چې زما د خاص استازی له خوا په مکرر ډول ويل شوی دي. د هاګ له کنفرانس څخه وروسته د افغانستان حکومت يو هر اړخيز پلان جوړ کړ چې په هغه کې له وخت سره سم، خاصې اړتياوې، او مناسب مهارتونه او جغرافيايي لومړيتوبونه څرګند شوي دي. په دې ټکی ټينګار وشو چې هر "ملکي پرمختګ" بايد په خپله د افغانانو په اختيار کې وي، څو مرستې له افغاني لومړيتوبونو او جوړښتونو سره برابرې شي، د بهرني موقتی حضور په ځای د افغانستان د حکومت حضور او پراختيا ته يو دايمي شکل ورکړي. د ملکي مهارتونو هر زياتوالی بايد هغو ته د تقاضا په بنياد ايجاد شي او بايد په دوام داره ظرفيت جوړونې ختم شي، او اغيزمنتوب يې د پيمايش وړ وي او وڅارل شي. د حکومت پلان او د يوناما له خوا مکتوب چې د ملکي ماهرينو د چټک او اغيزمن استخدام لپاره موجوده ميکانيزمونه توضيح کوي بين المللی ټولنې ته ورکړل شول. حکومت اوس د لومړيتوبونو پلان او دغه راز د "ملکي پرمختګ" د تطبيق لپاره ميکانيزمونه طرح کوي. يوناما به له حکومت سره ددې پلان په تطبيق کې خپلو مرستو ته ادامه ورکړي.

### VI. حکومت داری

۴۰. پورته يو شمير داسې پرمختګونونو ته اشاره وشوه چې په حکومت داري پورې اړه لري. له فساد سره د مبارزې په لار کې حکومت څه برياوې هم تر لاسه کړي دي. د فساد په ضد له هغې ستراتيژی وروسته چې د قاضي القضات له خوا ترتيب او د حکومت له خوا تصويب شوه، يوې اختصاصي څانګې چې (۱۵) څارنوالان په کې غړيتوب لري د لوي څارنوالی په دفتر کې د اپريل په لومړی نېټه خپل کار پيل کړ. ملګري ملتونه له دې څانګې سره د خپلو داخلي کارونو لپاره د لارښوونو په طرح کې مرسته کوي. د څارنې يا تفتيش او د فساد د ضد لوي دفتر، چې په دې وروستيو کې ايجاد شوی څو د حکومت د فساد ضد هڅې همغږې کړي او د ملګرو ملتونو له

خوا يي ملاتړ کيږي اوس د ماليي او د داخله چارو له وزارتونو سره د فساد په ضد يو عملي پلان طرح کوي. دواړو وزارتونو په فساد کي د اخته چارواکو په ضد قانوني او انضباطی اقدامات ترسره کړی دي. په عين وخت کي حکومت له ټولو عالي رتبه چارواکو څخه غوښتي دي چي خپلي شخصي شتمنی او د عايداتو سرچيني معلومي کړي. لوي دفتر به ددې معلوماتو ډيټابيس خوندي وساتي. چارواکي چې و نه شي کولای د خپلو سرچينو حساب ورکړي له تحقيقاتو سره مخامخ کيږي.

۴۱. د دې اقداماتو سره سره، هغه موسساتي چوکاټ چي فساد اداره کړای شي لا تر اوسه بشپړ شوی نه دی. دغه شرط خاصتا د قانوني چوکاټ په برخه کي حقيقت لري. دونرانو له يوناما څخه غوښتنه کړې ده چي له لوی دفتر سره خپلو هڅو ته ادامه ورکړي څو د فساد ضد قانون تر بيا کتني لاندې راشي.

## VII. سيمه ييزه همکاري

۴۲. د دې لپاره چي په افغانستان کي اقتصادي وده چټکه شي او جګړې ختمي شي سميه ييزې همکاري ته زياته پاملرنه شوې ده. په تيرو شپږو مياشتو کي د سيمه ييزې همکاري په رابطه څو کنفرانسونه جوړ شول چي په دې کي د پاريس، بروکسل، تهران او اسلام آباد غونډې شاملي دي. د مارچ په ۲۷ ما "د افغانستان په باب خاص کنفرانس" کي په مسکو کي ګډون وکړ، چي د شانګهای دهمکاري د سازمان (SCO) په لاربښوونه جوړ شوی و. په کنفرانس کي د SCO غړو هيوادونو د عمل پلان تصويب کړ او په سيمه کي يي د ګډو هڅو په اهميت باندې ټينګار وکړ چي په سيمه کي له تروريزم، د نشه يي توکو نا قانونه سوداګري او منظمو جنايتونو په ضد مبارزه وکړي. د سيمه ييزو مسالو په باب بل کنفرانس به د جون په ۲۶- ۲۷ په تريستي کي جوړ شي چي د نړۍ اته صنعتي هيوادونه به يې مشري کوي.

۴۳. د افغانستان او پاکستان ترمنځ دوه اړخيزه ډيالوګ پرمختګ کړی دی. د دوو ولسمشرانو او وزيرانو تر منځ يو شمير غونډې جوړې شوي چي په انقره کي د اپريل د لومړۍ نيټي او په واشنګټن کي د می د ۶ نيټي غونډې په کي شاملي وي. په دې غونډو کي په دوه اړخيزه يا درې اړخيزه چوکاټ کي په داسې مسالو بحث وشو لکه سوداګري، کرنه، نظامي او استخباراتي مسالي. د واشنګټن د خبرو څخه په الهام سره پاکستان او افغانستان په دې يوه خوله شول چي د ۲۰۰۹ کال د ډسمبر له ۳۱ څخه پخوا د ترانزيت تړون لاسليک کړي.

۴۴. د افغانستان، پاکستان او ايران ولسمشرانو د می په ۲۴ په تهران کي سره وليدل. له دې غونډې څخه مخکي د بهرنيو چارو وزيرانو د اپريل په ۲۷ په کابل کي غونډه درلوده، دريو ولسمشرانو يوه اعلاميه خپره کړه چي خپله ژمنه يې په دې اړه بيا تکرار کړه څو د تروريزم په وړاندې خپلي هڅې سره يو ځای کړي، درې اړخيزې اقتصادي پروژې تقويه کړي او د مخدره توکو د توليد او قاچاق مخنيوی وکړي.

۴۵. لکه څنګه چي زما په وروستی راپور کي ويل شوی دی د افغانستان په اړه د خارجه چارو د وزيرانو په غونډه کي چي په پاريس کي د ۲۰۰۸ په دسمبر کي جوړه شوې وه ډونرانو موافقه وکړه چي په سيمه ييزه کچه اقتصادي پروژې په ګوته کړي چي د افغانستان له اقتصادي ودې سره مرسته وکړي. دغه پروژې د ۲۰۰۹ په می کي په اسلام آباد کي د افغانستان په اړه د اقتصادي همکاريو دريم کنفرانس (RECCA) ته وړاندې شوې. يوناما چي د اروپايي اتحاديي له کميسيون سره له نږدې همکاري لري، د پروژو په پيژندلو او د ډونرانو په پيدا کولو کي مهمه ونډه درلوده. د RECCA وروستی اعلاميي د مشخصو پروژو او د هغو د ډونرانو لست خپور کړی دی. په دې کار سره نړيوالي ټولني د افغانستان لپاره د سيمه ييزو همکاريو د همغږي کولو ژمنه وښودله. يوه له دغو پروژو څخه د افغانستان د بهرنيو چارو په وزارت کي د يوه سکرتريت ايجادول و چي ټول سيمه ييز نوښتونه تعقيب کړي. په دې کار سره به د همکاری ټول سيمه ييز نوښتونه چي په تېرو څو مياشتو کي شوي دي په همغږي ډول نور انکشاف وکړي.

## VIII. بشري حقونه

۴۶.     په ټاکنو پورې تړلي د بشري حقونو په فعالیتونو برسیره چې مخکې یې یادونه وشوه، یوناما له افغاني ژورنالیستي اتحادیو او خبري رسنیو د سازمانونو سره مرسته وکړه چې یو پلان طرح کړي چې په ژورنالستانو او د مدني ټولنې په کارمندانو باندې مرګانیو بریدونو او ژوبلېدو په صورت کې ددې تضمین پیدا شي چې عدالت او حساب ورکونه به يې کیږي او معلوماتو ته به لاس رسي بهتره شي. د "بیان د آزادي لپاره د کابل اعلامیه" چې د مارچ په ۳۰ نېټه خپره شوه د ګډ عمل لپاره یوه اجندا جوړوي چې په افغانستان کې د بیان آزادي وساتي او هغې ته پراختیا ورکړي.

۴۷.     د دې دورې د بشري حقونو لپاره مهمه مساله د شیعه ګانو لپاره د شخصي احوالو قانون و، چې ولسمشر د ۲۰۰۹ په مارچ کې لاسلیک کړ. دغه قانون ځیني احکام درلودل چې د ښځو په وړاندې تبعیضي عملونو ته اجازه ورکوي او له هغو اصولو څخه سره مغایرت لري چې افغانستان د بشري حقونو په برخه کې تصویب کړي دي. په دې قانون کې په غیر مستقیم ډول د ماشوم ودونه، پلرونو او نیکونو ته (د پلار له پلوه) د ماشوم د ساتنې حق ورکول، د ښځې مسوولیت چې د خپل مېړه جنسي غوښتنې پوره کړي، او دغه شرط شامل دی چې ښځه د دې اجازه نه لري چې د مېړه له اجازې څخه پرته کور پریږدي. وروسته له هغه چې په ملي او نړیواله کچه په دې اړه اندیښني راڅرګندې شوې، د ملګرو ملتونو له خوا د بشري حقونو د عالي کمیشنر د اندیښنو په ګډون، ولسمشر ددې تقاضا وکړه چې په قانون  بیا له سره غور وشي.

۴۸.     یوناما د هیواد په جنوب، جنوب ختیځ او ختیځو سیمو کې د ۲۰۰۹ کال د جنورې څخه بیا د می تر میاشتې پورې د ملکی کسانو ټولټال ۸۰۰ تلفات ثبت کړی دي. دغه شمیرنی یعنی د ۲۰۰۸ کال په پرتله ۶۴۶ مړیني وې چې په عین موده کې ۲۴ سلنه لوړوالی په ډاګه کوي. د یوناما د شمیرنو پر اساس ۵۵ سلنه مړیني د حکومتي ضد عناصرو، ۳۳ سلنه مړینی د پوځي او افغان ځواکونو او پاتې ۱۲ سلنه چې د شخړې هیڅ یوې خوا ته نه شي منسوب کیدای، رامنځ ته شوي دي. د راپور ورکولو په دغه موده کې د یاغیانو له خوا د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو کارول چې په خپل ذات کې د تبعیض وړ عمل دی، زیات شوي دي.

۴۹.     دا باید په وا ر وار وویل شي چې د زیاترو ملکي تلفاتو ریښې د طالبانو او ترهګرو له فعالیتونو څخه چې غواړي په عمدي توګه ملکي موخې تر هدف لاندې ونیسي راپیدا کیږي. له بلې خوا، نړیوالو پوځي ځواکونو په غیر جنګی کسانو د عملیاتو د اغیزو د راکمولو پخاطر تخنیکي لارښووني او تدبیرونه نشر او صادر کړي دي. د دې سربیره،  د ملکي کسانو په تلفاتو کې چې حکومت پلوه ځواکونو ته منسوب کیږي د ۲۰۰۸ کال د ورته مودې په پرتله کوم بدلون نه دي راغلي. د ۲۰۰۹ کال د می د میاشتې په ۴ نېټه د فراه د ولایت د بالابلوک د ولسوالي په هوایي بریدونو کې یو زیات شمیر ملکي کسان چې ښځې او ماشومان په کې شامل و له منځه ولاړل. دغې پیښې یو وار بیا په مزدحمو سیمو کې ملکي ژوند ته د څیرمه خطرونو په اړه دوامداره کارونه تر پوښتنې لاندې راوستل.

**IX. د بشرپالنې وضیعت**

۵۰.     سره له دې چې د هیواد په شمال شرقی او مرکزی سیمو کې د زیات اورښت له امله د واورې ښویدنې، ځمکه ښویدنې او د سرکونو بندښت رامنځ ته شو، دغه تیر ژمی د نورو کلونو په پرتله خفیف و. د بشرپالنې څو ضروري مداخلتونو د ملګرو ملتونو، افغان حکومت، نا دولتي سازمانونو او شریکانو له خوا ښه همغږي تر لاسه کړه. د بشري مرستو په هکله د پالیسي د یادداښت سره په مطابقت کې، کوم چې د ۲۰۰۹ کال د جنوري په میاشت کې تصویب شو،   دولایتي بیا رغوني ټیمونو د ځایي چارواکو په غوښتنه د یوې وروستنی هڅې په حیث لوجیستیکي مرستې ترسره کړي دي.

۵۱.     د همغږی جوړ شوی جوړښت د اپریل د میاشتې په نیمایي کې چې کله د ننګرهار ولایت دوو زلزلو ولړزاوه او په نتیجه کې یې ۲۲ کسان مړه، ۵۹ ټپیان او ۶۵۰ کورنۍ بې کوره شوي، ازمایښت ته وړاندې شو. ځایي چارواکو، د ملي خطرونو د مدیریت اداري، ملګرو ملتونو او د عامي روغتیا وزارت بیړنی مرستې برابرې کړي.

۵۲.  د راپور ورکولو د مودې پرمهال، تیزو بارانونو او سیلابونو یو زیات شمیر کورنه، نږدې ۱۷۰۰۰ هکتاره کرنیزه ځمکه، نږدې ۱۰۰۰۰ څاروي، پلونه او سړکونه له منځه یوړل. د ملګرو ملتونو نمایندګیو، نادولتي سازمانونو او نورو شریکانو د ځایي چارواکو سره متاثره شویو خلکو ته د مرستو د برابرولو په موخه نږدې همکاري وکړه.

## X. ملاحظات/کتنې

۵۳.  د ۲۰۰۹ کال لومړی ۶ میاشتې په افغانستان کې د دریو مسلسلو ستراتیژیکو بدلونونو د پیل شاهدې وې. لومړی بدلون یې د ملکي هڅو په هکله کوم چې د کنفرانس په صالونونو کې ورباندې موافقه شوې او د ځمکنې حالاتو ښکارندوې کوي زیات ټینګارښکاره  کوي: پوځې موخې نه شي کولای په یوازې توګه په افغانستان کې بریالیتوبونه تر لاسه کړي. دویم بدلون د سیمه ییز حکومت او خدمتونو د رسولو په هکله یو نوی تمرکز دی چې ګویا نا امني  ،کمزوري  حکومت کولو او  دخلکو اغفال ته لار هواره وي. دریم ستراتیژیک بدلون په کلیدي سکټورونو کې د ښو درک شویو حکومتي پروګرامونو تر شا د نړیوالو هڅو تنظیم او پلی کول دي. په بل عبارت، د مرستو موثریت د اجنډا ماهیت او څرنګوالی.

۵۴.  دلته د زیات اهمیت وړ پرمختګونه شتون لري. که چیرې په دغه راپور کې توضیح شوی مثبتې تګلارې پیاوړی شي، نو بیا به د افغانستان په وضعیت کې د ستر پرمختګ د ښه والی تمه وشي.

۵۵.  دغه د پام وړ پرمختګونه یوه ستونزمن سیاسي او امنیتي وضیعت سره یو ځای رامنځ ته کوي، موږ د ټول ټاکنو د کمپاین مودې ته داخلیږو، او دا به سیاسي انرژي او پاملرنه جذب کړي. او بل دا چې موږ د جګړو په فصل کې قرار لرو، تمه کیږي چې دا به د ۲۰۰۱ کال را وروسته تر ټولو شدیدې وي. په دغه سراسري سیاسي او امنیتي وضعیت کې به ډیره ستونزمنه وي چې مثبت حرکت وساتو. که چیرې له موږ څخه مسیر ورک شي، نو موږ به هرومرو ارزښتناک وخت له لاسه ورکړو او له بلې خوا د نویو ناهیلیو او په شاتلو شاهد به  و اوسو او دا به د افغان وګړو او نړیوالې ټولنې تر منځ اغفال ته لار هواره کړي.

۵۶.  ځکه نو زه د نړیوالې ټولنې د ټولو غړو څخه غواړم چې خپل ټول قوت د هغو مثبتو پرمختګونو تر شا واچوی څو د هغې ستونزمنې دورې چې زموږ په وړاندې پرته ده خپل مسیر وساتو. دا په دې مانا ده چې موثرو ملي پروګرامونو ته بیړنی  او غښتلی ملاتړ برابر شي کوم چې اوس په کلیدي سکټورونو کې وړاندې شویدی. دا به نه یوازې په کلیدي سکټورونو کې چې د ډیرې مودې راهیسې هیر شوی دی د پام وړ اغیزې ولري، دا به همدارنګه په نورو کلیدي برخو کې اداري فساد، جنایت، تریاکو د تولید او غذایي نه مصونیت په برخو کې ښې بیلګې وړاندې کړي. په پای کې به دا د ټینګ ټیکاو د رامنځ ته کولو په برخه کې د پام وړ برخه واخلي. د افغانستان حکومت د جاري کار د دوام لپاره باید خپلې ټولې هڅې ترسره کړي، باید په هغه حرکت یا مسیر چې د ټول ټاکنو څخه را ولاړ شوی او بیا تر ټول ټاکنو دوام مومي کار وکړي.

۵۷.  دغه دوبی به په افغانستان کې د نړیوالو پوځونو د زیاتوالی شاهد و اوسي. داسې اضافي پوځونو ته اړتیا لیدل کیږي، دغه هڅې باید د ټولټاکنو لپاره د امنیت د راوستلو په مسله پورې یوازې تړلې نه وي بلکه د افغان ملي پوځ د لا پیاوړي کولو لپاره هم وي. اضافي نړیوال ځواکونه به د یاغیانو په وړاندې د لا زیاتو شدیدو جګړو په مانا وي. دا د ډیر اهمیت لرونکې دی چې دا په داسې یوه طریقه ترسره شي چې دترهګرو ګوابښونه کمزوري کړي او له بلې خوا د وګړو د ملاتړ سر هم مرسته وکړي. دا زما لپاره د ډیرې اندیښنې وړ خبره ده چې د پوځ له اړخه د ملکي تلفاتو شمیر مخ پر زیاتیدو دی او دا کار ملکي وګړي د نړیوالې ټولنې څخه لیرې کوي. موږ اوس د هر وخت په پرتله په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې، ملکي او پوځي شتون لپاره د افغانانو کلک او دوامداره ملاتړ ته اړ یو.

۵۸.  زه د اضافي ځواکونو د ځای پر ځای کولو هر کلی کوم. د داسې یوه وضعیت د رامنځ ته کولو څخه چیرې چې زیات ځواکونه زیاتو جګړو ته لاره هوار وی او بیا د هغو په نتیجه کې زیات ملکي تلفات رامنځ ته شي

او داسې سلوک چې د ملکي کسانو لپاره یو تیری وشمیرل شي، مخنیوی وشي. د ځانګړو پوځونو د عملیاتو او د دغو عملیاتو د افغاني کولو په اړه چټکې ارزونې ته ضرورت لیدل کیږي. د وګړو د ګڼ میشتو سیمو د لحاظه باید د هوایي بریدونو په اړه هم یوه چټکه ارزونه ترسره شي. په دغو ارزونو کې باید اختیارات او د هغوي ممکنه پایلې تر غور لاندې ونیولې شي. علاوه پر دې، زه د پوځي چارواکو څخه هیله کوم چې پوځي پرسونل ته د ممکنه فعالیتونو د مخنیوی په خاطر د ملکي کسانو د تلفاتو او دملکي وګړو د بېګانه کولو باعث ګرځي، مناسبې او دوامداراه پوځي روزنې ورکړي، که نه نو مثبتې تګلارې به تر پوښتنې لاندې راولي.

۵۹. دا د ډېر اهمیت وړ ده چې نړیوال پوځي او ملکي شتون خپل پراخ ځو اړخیزه کرکټر وساتي. موږ نن ورځ د داسې شتون پایلې ګورو. هغه پرمختګ چې په دې راپور کې راغلي دی د کار وړ افغان وزیرانو او چارواکو په مټه ترسره شوی، خو دا کار به د نړیوال پراخ شتون څخه پرته ممکن نه وای. د دې په خاطر چې دغه حرکت وساتل شي موږ باید خپل پراخ شتون وساتو. اوس هغه وخت نه دی چې موږ خپلې هڅې کمې کړو، خو که چیرې موږ خپلې هڅې په یوه همغږې توګه تنظیم کړو دا به د ټول هیواد په ګټه وي.

۶۰. د یوناما لپاره د هغه مرکزي رول ترسره کول چې د امنیت د شورا له خوا ورسپارل شوی او د هاګ به کنفرانس کې وربانډې بیا تاکید شوی، د لومړی ستراتیژیک بدلون د ځوابولو په موخه چې پورته هم ورته اشاره وشوه مناسبې سرچینې په اختیار کې ورکړي. د هاګ د کنفرانس ګډون والو د امنیت د شورا د ۱۸۶۸ لمبر پریکړه لیک په رڼا کې د ماموریت د شتون د لا غځولو غوښتنه وکړه. دا کار د ماموریت د سیمه ییزو او ولایتي دفترونو د ارزښت په پام کې نیولو سره چې وکولای شي د ملکی حرکاتو ملاتړ وکړي، اصلاحي هڅو او ملي پروګرمونو او لومړیتوبونو ته وده ورکړي او همدارنګه د سیمه ییزو حکومتونو، مدني ټولنې او نورو فعالینو موخه یې د سیمه ییزو اجنډاګانو پرمخ وړل وي، کار کولو ته دوام ورکړي. یوناما ۸ سیمه ییز دفترونه او ۱۲ ولایتي دفترونه لری چې له دې جملې څخه دوه نوي دفترونه د می په میاشت کې پرانیستل شوی دی. یوناما د دریو اضافي دفترونو لپاره بودجه یې سرچینې چې تمه کیږي په دې نږدې کې به پرانیستل شي، په اختیار کې لري. ددې لپاره چې د هیواد په هر ولایت کې حضور ولري، یوناما به د امنیت پورې اړوندو سرچینو په شمول د ضرورت په وخت کې د ۱۱ نویو دفترونو د پرانیستلو لپاره اضافي سرچینو ته هم ضرورت ولري.

۶۱. دغه اوسنی راپور د همغږي د مرستو په ډګر کې د یوناما د پیاوړې نقش په اړوند ځینې بیلګې وړاندې کوي. دا به د افغان او نړیوالو شریکانو هڅې ګړندې کړي څو په هر سکتور کې د تمویل کوونکو پریکړې د تخنیکي- دقیق او د افغان مالکیت د سکټوري ستراتیژي ګانو له خوا تعین کړای شي. ددې پخاطر چې د تشو د څرګندولو لړۍ ته دوام ورکړو او بیا د دغو تشو د ډکولو لپاره حکومت او تمویل کوونکي وهڅوو، یوناما باید تر ۲۰۱۰ پورې د خپلو مرستو د همغږۍ رول لا پسې پیاوړی کړي.

۶۲. یوناما د اضافي سرچینو په کارولو کې چې د ماموریت لپاره د ۲۰۰۹ کال په بودجه کې ځانګړې شوی او همدارنګه د تشدیدي او کامیابه استخدام د کمپاین د کارولو په شمول په ممکنه موثره او ګړندۍ توګه کارولي دی. ما په دې نږدو کې د یوناما د دوامداره او مسلسلو هڅو څخه د ډاډ حاصلولو پخاطر زما د ځانګړی استازی تر سراسري لارښوونې لاندی دوه نوي مرستیال ځانګړی استازي ټاکلی دی. په ۲۰۰۹ کې د لاسته راوړنو د خوندیتوب پخاطر او په ورته ډول د افغانانو او تمویل کوونکو هیوادونو له خوا د ملګرو ملتونو څخه د توقعاتو د ترسره کولو پخاطر، ټینګ باور لرم چې په ۲۰۱۰ کال کې به ماموریت لا هم نور غښتلی شي. په حقیقت کې، حتی له دې څخه وړاندې چې د ۲۰۱۰ کال بودجه تمویل شي، دا روښانه ده چې د اضافي تمویل سربیره نورو زیاتو سرچینو ته هم اړتیا لیدل کیږي. د درې واړه ستراتیژیکو بدلونونو د لازم ځواب ویلو په موخه لازې چارې لټول شوی څو دا جوته شي چې کوم کلیدي عناصر باید ژر تر ژره پلی شي.

۶۳. د امنیت شورا ۱۸۶۸ (۲۰۰۹) لمبر پریکړه لیک غوښتنه کوي چې د یوناما ماموریت او لومړیتوبونو د پلې کولو د پرمختګ د معلوملو لپاره معیارونه تعیین شي. سره له دې، د ټولټاکنو د تیاریو او د هاګ د کنفرانس د لازمي پاملرنې په نظر کې نیولو سره، دا غیر ممکن ښکاری چې په بشپړه توګه دغه فعالیت د پراخ او له مانا ډک سلا مشورو له لارې ترسره شي. زه به په دې هکله په خپل راتلونکی راپور کې چې د ۲۰۰۹ کال د سپتمبر په میاشت کې متوقع دی یو وړاندیز او د نهایي شویو معیارونو یوه مجموعه وړاندې کړم.

۶۴.    په اوس حال کې داسې تمه کیږي چې د پرمختګ معیارونه، شاخصونه او اندازه ګیري به په هغو پراخو ساحو کې د منل شویو ملي ستراتیژي ګانو د موخو د انعکاس او د یوناما د ماموریت لکه څنګه چې د امنیت شورا په ۱۸۶۸ (۲۰۰۹) لمبر پریکړه لیک که طرح کړی ، تمرکز وکړي. په دې کې د موسساتو جوړول، امنیت، اقتصادي او ټولنیز انکشاف او همدارنګه هر اړخیز مسایل چې په نورو ساحو کې پرمختګ په ټینګه تر تاثیر لاندې نیسي ، شامل دی . وړاندیز کیږي چې معیارونه به د پایلو پر بنسټ ولاړ وي او همدارنګه تړون/ اتصال به یې د نیټو سره وي. د معیارونو د تنظیم کولو پرمهال، د یادونې وړ دی چې په ځینو ساحو کې یوناما دا ظرفیت لري چې د پرمختګ نظارت وکړي، ددغه ډول پرمختګ مسوولیت په رښتیا سره د افغان یا نړیوالو شریکانو سره دی.

۶۵.    لکه څنګه چې د مخه یادونه وشوه ددې فعالیت نهایي کول لومړی او په لومړی درجه کې د افغان حکومت او نړیوالو شریکانو د سلا مشورو د یوې مناسبې پروسې څخه د اطمینان په مسلې پورې تړلی ده. د سلا مشورو داسې پروسه پیل شوی ده. زه د نړیوالې ټولنې د یو شمیر غړو څخه یوناما ته د هغوي د چمتووالی او د پروسې د دوام په هکله د اطلاع ورکولو څخه خوښ یم. زه افغان حکومت او نړیواله ټولنه هڅوم چې په دې هکله د یوناما ملاتړ ته دوام ورکړي.

۶۶.    غواړم د خپل ځانګړی استازی ښاغلی کای ایده څخه د هغه د مصممو هڅو په هکله مننه وکړم او همدارنګه د یوناما د هغو ټولو نارینه وو او ښځینه وو کارکوونکو څخه په ستونزمنو شرایطو کې د هغوي د نه ستړی کیدونکو هلو ځلو په هکله کورودانی وکړم. زه همدارنګه غواړم د ماموریت د شریکانو، د ملګرو ملتونو د هیواد د کچې د ټیم په شمول، غړیو هیوادونو، ایساف او همدارنګه د بشرپالنې او نړیوالو نورو شریکانو څخه د هغوي د ټینګ ملاتړ په هکله چې لا هم یې یوناما ته ورکوي مننه وکړم.